رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ

# د حضرت امیرِ حمزه پهٔ شان کښې قرآني آیتونه

02-April-2026



هفته وار د سنتو ډکه اجتماع کښې کېدونکي

د سنتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

پۀ 2 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 13 شوال شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ شان کښې قرآني آيتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د ژوند اصلي مفهوم
- د نفس درې قِسمونه
- حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ جَنَّت کښې دِده وهلې ده
- د نفس د تزکيې درې طریقې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

### د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اِنَّ اللّٰہَ تَعَالٰی جَعَلَ لِاُمَّتِیۡ فِی الصَّلَاۃِ عَلَیَّ اَفۡضَلَ الدَّرَجَاتِ

**ترجمه**: بے شکه الله پاک زما د اُمت د پاره په ما باندې د درودِ پاک لوستلو په بدل کښې اعلیٰ درجې مقررې کړې دي-[1]

| | |
|---|---|
| ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دَم بَدَم اور بار بار درود |
| کون جانے درود کی قیمت | ہے عجب دُرِّ شاہوار درود |
| مومنو! آپ پر پڑھے جاؤ | باادب اور باوقار درود |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے-[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو**! په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د

---

[1]... القول البدیع، صفحه:342۔

[2]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیّتونه اوکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښېنم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم خوږ ترهٔ دے، هغوئي د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دُنیا ته د تشریف راوړلو نه دوه کاله مخکښې دُنیا ته تشریف راوړلو- د هغوئي 4 مشهور لقبونه: (1): اَسَدُ الله (د الله ازمرے) (2): اَسَدُ الرَّسُول (د رسولِ پاک صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ازمرے) (3): فاعِلُ الْخَیْرَات (د ډیرو نیکو کولو والا) او (4): سَیِّدُ الشُّهَدَاء (د شهیدانو سردار)-[1]

| | |
|---|---|
| کیا پوچھتے ہو کیا ہیں حضرت امیرِ حمزہ | حیرت کی انتہا ہیں حضرت امیرِ حمزہ |
| اللہ رے یہ نسبت! اللہ رے یہ عظمت! | سرکار کے چچا ہیں حضرت امیرِ حمزہ |

## د الله او د رسول شیر(ازمرے)

پهٔ معجم کبیر کښې دي: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فرمائیلي دي: پهٔ هغه ذات باندې مې دې قَسم وي د چا پهٔ قبضه کښې چې زما ځان دے! بے شکه پهٔ اووم اسمان باندې لیکلے شوي دي: حَمْزَةُ بْن عَبْدِ الْمُطَّلِب أَسَدُ اللّٰهِ وَأَسَدُ رَسُوْلِهٖ یعنې حضرت حمزه بن عبدُ المُطَّلِب د الله او د هغهٔ د رسول ازمرے دے-[2]

| | |
|---|---|
| وہی شیر ہیں خُدا کے اور شیر مصطفٰے کے | ہیں مُحِبِّ حبیبِ دَاوَر آقا امیر حمزہ! |

---

[1]... شرح زرقانی مواہب الدنیہ، جلد:4، صفحہ:470، اُسد الغابۃ، جلد:2، صفحہ:67۔

[2]... معجم کبیر، جلد:2، صفحہ:266، حدیث:2881۔

## د حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ شهادت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ 15 شوال، کال 3 هجرئ د حق او د باطل عظیم جنګ وشو، کوم ته چې غزوۂ اُحد وئیلے شي، پهٔ غزوۂ اُحد کښې حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ هم شریک وو، هغوئي ډیر پهٔ بهادرئ سره وجنګیدو او پهٔ اخره کښې یــې د شهادت اوچته مرتبه حاصله کړه۔ (1) د شهادت پهٔ وخت د هغوئي عمر مبارک 54 کاله وو۔ (2)

سرداری تمہیں حاصل ہے سارے شہیدوں کی | یوں حق کی حفاظت میں کی جان فدا حمزہ!
احسان نہ بھولے گا میدانِ اُحُد تیرا | ہے اس کی شبِ جاں میں اب تیری ضیا حمزہ!

## د امیر حمزه رضی اللہ عنہ پهٔ شان کښې قرآني آیتونه

راځئ چې د حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ پهٔ شان کښې نازل شوي آیتونه واورو او د هغې نه سبق حاصل کړو:

### (1): نُور ورعطا کړے شو

حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ د هجرت نه مخکښې هم پهٔ مکه مکرمه کښې د اِیمان قبلولو سعادت حاصل کړو، کله چې هغوئي د اِسلام پهٔ دولت مالا مال شو نو هٔغه وخت د هغوئي پهٔ شان کښې دا آیت مبارک نازل شو۔

اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ

(پاره:8، سورۂ انعام:122)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او آیا هٔغه کوم چې مړ وو بیا هغه مونږه ژوندے کړو او مونږ د هغهٔ د پاره یو نُور جوړ کړو د کوم پهٔ ذریعه چې هغه پهٔ خلقو کښې ګرځي (آیا) هغه

---

[1] ... معرفة الصحابة، جلد:2، صفحه:17۔

[2] ... أُسد الغابة، رقم:1251، حمزة بن عبد المطلب، جلد:2، صفحه:70۔

| | |
|---|---|
| | به د هغهٔ چا پهٔ شان شي څوک چې پهٔ تِیارو کښې (پروت) دے (او) د هغو نه د وتلو والا هم نهٔ دے۔[1] |

دلته د 2 کسانو پهٔ خپل مینځ کښې تقابل شوے دے (1): یو حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ، د هغوئي پهٔ باره کښې اِرشاد وشو: هغوئي مخکښې کلمه نهٔ وه لوستلې، بیا الله پاک هغوئي ته د اِیمان توفیق عطا کړو، د هغوئي زړهٔ ته یې د اِیمان نُور کوز کړو (2): دویم ابو جهل دے، د دهٔ پهٔ باره کښې وفرمائیلے شو: دے پهٔ تیارو کښې ګرځي، د هغې نه د وتلو والا نهٔ دے۔

فرمائي: آیا دا دواړه یو شان کیدے شي؟ هیڅکله نشي کیدے۔

## د ژوند اصلي مفهوم

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ دې آیت مبارک کښې د ژوند عجیبه فلسفه بیان کړے شوې ده، پهٔ عام توګه ته ژوند وئیلے شي، د چا ساه ګانې چې روانې وي، څوک چې خبرې کولے شي، اوریدے شي، ګرځیدے شي، هغهٔ ته ژوندے وئیلے شي، خو پهٔ دې ځائے کښې قرآنِ کریم د ژوند یو بل مفهوم بیان کړے دے، وګورئ چې حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دُنیا ته د تشریف راوړلو د 40 کالو نه زیاته موده تیره شوې وه، هغوئي به ګرځیدو هم، خوراک څښاک به یې هم کولو، ښکار به یې هم کولو، د دې باوجود الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| كَانَ مَيْتًا (پاره:8، سورۂ انعام:122) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه کوم چې مړ وو۔ |

[1]... تفسیر کبیر، پاره:8، سورۂ انعام، تحت الآیة:122، جلد:5، صفحه:134۔

بيا چې کله هغوئي اِسلام قبول کړو، د هغوئي زړهٔ د ايمان پهٔ نُور باندې منور شو نو فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاَحْيَيْنٰهُ (پاره:8، سورهٔ انعام:122) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا هغه مونږه ژوندے کړو۔ |

معلومه شوه چې اصلي ژوند د زړهٔ ژوند دے، د چا پهٔ زړهٔ کښې چې د اِيمان نُور موجود دے، هغه ژوندے دے، او د چا پهٔ زړهٔ کښې چې دا نُور موجود نهٔ دے، د هغهٔ زړهٔ هم مړ دے، هغه بچپله هم د ژوندو پهٔ شکل کښې مړے دے۔

زِندگی زِندہ دِلی کا نام ہے | مُردہ دِل کیا خاک جیا کرتے ہیں

## د زړهٔ حفاظت اوکړئ---!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې نه معلومه شوه چې د زړهٔ حفاظت ډير ضروري دے، نن سبا دلته خلق د ظاهري وجود خيال ساتلو ته ډير پام کوي، زمونږ وجود ته روزانه د څومره خوراک ضرورت دے؟ څومره کيلوريز ضروري دي، پهٔ جسماني توګه که کمزوري يو نو ډاکټر له هم ځو، خلق د وجود د فِټ ساتلو د پاره ورزشونه هم کوي، او د وجود د فِټ ساتلو د پاره ويټ لفټنګ (***Weightlifting***) هم کوي۔

ځان پهٔ جسماني توګه د صحت مند ساتلو کوشش بد نهٔ دے، البته دا د سوچ خبره ده چې آيا دا هر څهٔ مونږ د خپل زړهٔ پهٔ معامله کښې هم کوو؟ آيا مونږ چرته سوچ کړے دے چې زمونږ زړهٔ صحت مند دے که نهٔ؟ چرته مونږ پهٔ باطني توګه بيماران خو نهٔ يو؟ چرته زمونږ پهٔ زړهٔ کښې حسد، تکبر، بغض، کينه وغيره ايمان اخستونکې بيمارۍ خو نهٔ دي پيدا شوې؟

د افسوس سره عرض کووم چې عام طور دې طرف ته هډو پام نهٔ کيږي۔ حالانکې اصلي

ژوند هُم د زړۀ ژوندي ساتلو نوم دے- چا څۀ ښه وئیلي دي چې:

دِلِ مُردَہ دِل نہیں، اسے زِندہ کر دوبارہ | یہی ہے اُمّتوں کے مرضِ کُہَن کا چارہ

وضاحت: مطلب دا دے چې د قامونو د اصلي بیمارۍ علاج دا دے چې د هغوئي زړونه ژوندي کړے شي-

## الله پاک ښه وعده وفرمائیله

پۀ 20 سیپاره، سورۀ قصص، آیت: 61 کښې ارشاد دے:

اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِیْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ثُمَّ هُوَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ﴿۶۱﴾

(پاره:20، سورۀ قصص:61)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو هُغه کس چا سره چې مونږه ښه وعده کړې ده بیا هغه هغې (وعدې) سره ملاقات کوونکے (هُم) دے آیا هغه د هُغه کس پۀ شان دے چا لره چې مونږه (صرف) د دُنیائي ژوند ساز و سامان د فائدې اوچتولو د پاره ورکړے وي بیا هغه د قیامت پۀ ورځ د ګرفتار کړے شوو حاضرَوُونکو نه شي-

پۀ دې آیت مبارک کښې وفرمائیلے شول چې دوه کسان دي: (1): یو هغه دے د چا سره چې الله پاک د جَنَّت وعده کړې ده او هغه به ضرور جَنَّت ته رَسیږي او (2): دویم هغه دے کوم ته چې د دُنیا مال عطا کړے شو، بیا به د قیامت پۀ ورځ باندې هغه ګرفتار راوستلے شي، آیا دا دواړه یو شان کیدے شي؟ هیڅکله هم نشي کیدے- مُفَسِّرین کرام فرمائي: دا آیت مبارک هم د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د ابو جهل پۀ

باره کښې نازل شوے، پۀ دې آيت کښې هُغه کَس د چا سره چې الله پاک د جَنَّت وعده کړې ده، د هغۀ نه مُراد حضرت امیر حمزه رضی اللہ عنہ دے او هُغه کَس چا ته چې د دُنیا مال ورکړے شو خو د قیامت پۀ ورځ باندې به هغه ګرفتار راوستلے شي، د هغۀ نۀ مُراد ابو جهل دے۔ (1)

## د الله او د رسول ازمرے

**پۀ معجم کبیر کښې دي:** د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ وآلہٖ وسلم فرمائیلي دي: پۀ هُغه ذات باندې مې دې قَسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! بے شکه پۀ اووم اسمان باندې لیکلے شوي دي: **حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَسَدُ اللهِ وَأَسَدُ رَسُوْلِهِ** یعنې حضرت حمزه بن عبدُ المُطَّلِب د الله او د هغۀ د رسول ازمرے دے۔ (2)

وہی شیر ہیں خُدا کے اور شیر مصطفٰے کے | ہیں مُحِبّ حبیبِ دَاوَر آقا امیر حمزہ!

## (3): د نفسِ مُطمَئِنَّه صاحب

پۀ 30 سیپاره، سُورۀ فجر، آیت 27 نه 30 پورې اِرشاد دے:

يٰۤاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَىٕنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِیْۤ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِیَةً مَّرْضِیَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِیْ فِیْ عِبٰدِیْ ﴿۲۹﴾ وَ ادْخُلِیْ جَنَّتِیْ ﴿۳۰﴾

(پاره:30، سورۀ فجر:27-30)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے د اِطمینان والا نفسه! د خپل رب طرف ته پۀ داسې حال کښې وګرځه چې تۀ د هغۀ نه راضي يې، [او] هغه ستا نه راضي وي، بیا زما خاصو بندګانو کښې داخِل شه، او زما جَنَّت ته

---

1 ... ذخائر العقبیٰ ، صفحه:300۔

2 ... معجم کبیر، جلد:2، صفحه:266، حدیث:2881۔

داخِل شه۔

د روايتونو مطابق دا آيتونه هُم د حضرت امير حمزه رضی اللہ عنہ پۀ شان کښې نازل شوي ، (1) کله چې د هغوئي رُوح مبارک د پاک وجود نه جُدا شو نو هغوئي ته خطاب وشو:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَىٕنَّةُ ﴿۲۷﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:27) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے د اِطمينان والا نفسه!۔ |
| ارْجِعِیْۤ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:28) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د خپل رب طرف ته پۀ داسې حال کښې وګرځه چې تهٔ د هغهٔ نه راضي يـې، [او] هغه ستا نه راضي وي۔ |
| فَادْخُلِیْ فِیْ عِبٰدِیْ ﴿۲۹﴾ وَ ادْخُلِیْ جَنَّتِیْ ﴿۳۰﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:29-30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا زما خاصو بندګانو کښې داخِل شه، او زما جَنَّت ته داخِل شه۔ |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې آيتونو نه يو څو خبرې معلومې شوې: (1): حضرت امير حمزه رضی اللہ عنہ نَفْسِ مُطْمَئِنَّه والا اِنسان دے۔

## د نفس 3 قِسمونه

د اِنسان د نفس 3 قِسمونه دي: (1): : هغه نفس کوم چې پۀ ګناه باندې راپارول کوي، هغه ته نفسِ اَمَّاره وئيلے شي (2): : هغه نفس کوم چې اِنسان پۀ ګناه باندې رټي او ملامته کوي يې، هغه ته نَفْسِ لَوَّامَه وئيلے شي (3): دريم نفس دے: نَفْسِ مُطْمَئِنَّه، دا د ټولو نه د افضل او اعلیٰ درجې والا وي، کله چې اِنسان دننه، د هغۀ ضمير، د هغۀ نفس د

[1] ... تفسير خازن، پاره:30، سورهٔ فجر، زيرِ آيت:27، جلد:4، صفحه:428۔

الله پاک پهٔ حکمونو او د هغهٔ د رضا پهٔ طلب کښې رنګ شي، هغهٔ له نيکي کول مزه ورکوي، سکون ورته ميلاؤيږي، د نيکۍ نه لرې کيدل، د نيکۍ نه منع کيدل پهٔ هغهٔ باندې بوج وي، داسې نفس ته نَفْسِ مُطْمَئِنَّه وئيلے شي۔ (1)

کله چې د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ اخري وخت شو نو هغوئي ته خطاب وشو:

| | |
|---|---|
| يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:27) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے د اِطمينان والا نفسه!۔ |

معلومه شوه چې حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د پاک نفس والا، د الله پاک پهٔ رضا کښې راضي اوسيدونکے، هر وخت د هغهٔ د رضا پهٔ کوشش کښې اوسيدونکے، پهٔ نيکو کښې سکون موندونکے، د ذوق او شوق او د اِستقامت سره نيک اعمال کوونکے دے۔

نور پهٔ دې آيتونو کښې ووئيلے شو چې (2): هغوئي د الله پاک نه راضي دي او الله پاک د هغوئي نه راضي دے (3): هغوئي ته جَنَّت عطا کړے شو او (4): هغوئي د الله پاک د خاصو نه پهٔ خاص بندګانو کښې شامل کړے شو۔

## حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ پهٔ جَنَّت کښې ډېره وهلې ده

د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د شپې چې زهٔ جَنَّت ته داخل شوم نو وه مې ليدل چې حمزه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ) د خپلو دوستانو سره موجود وو۔ (2)

پهٔ يو روايت کښې دي، فرمائي: د شپې چې زهٔ جنَّت ته داخل شوم نو وه مې ليدل چې

---

[1]… تفسيرصراط الجنان ، پاره :30، سورة الفجر، زيرآيت :27، جلد:10 ، صفحه:674 مفصلًا۔

[2]… استيعاب، باب جعفر، جلد:1، صفحه:314 ملتقطاً۔

حضرت جعفر طیار رضی اللہ عنہ د فرښتو سره پهٔ هوا کښې الوتلو او حضرت حمزه رضی اللہ عنہ پهٔ تخت باندې ناست وو او ډېره یې وهلې وه-(1)

## پهٔ خاصو کښې خاص بندګان څوک---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ دې آیتونو کښې اِرشاد وشو:

| | |
|---|---|
| فَادۡخُلِیۡ فِیۡ عِبٰدِیۡ ﴿۲۹﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:29) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا زما خاصو بندګانو کښې داخِل شه- |

دلته د عِبَادِي (یعنې د الله پاک پهٔ خاصو کښې خاص بندګان) څوک دي؟ پهٔ دې باره کښې د قرآنِ کریم پهٔ یو بَل آیت کښې دي:

| | |
|---|---|
| فَالۡمُدَبِّرٰتِ اَمۡرًا ﴿۵﴾ (پاره:30، سورهٔ نازعات:5) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا (قَسَم دے!) د کائنات د نظام پهٔ چلوونکو- |

د الله پاک مختلفې فرښتے دي، د هغوي مختلفې ډیوټیانې لګولے شي ❁ څهٔ فرښتے پهٔ باران ورولو باندې مقررې دي ❁ څهٔ پهٔ غرونو باندې مقررې دي ❁ ځینې فرښتے زمونږ پهٔ اعمالو باندې مقررې دي، دغه شان د مختلفو فرښتو مختلفې ذمه وارۍ دي، دې فرښتو ته مُدَبِّر فرښتے وئیلے شي،(2) عُلَمائے کرام فرمائي: کله چې د نَفْسِ مُطْمَئِنَّه والا هستیانې یعنې اولیائے کرام د دُنیا نه لاړ شي نو هغوئي هم پهٔ دې فرښتو کښې شاملولے شي او مختلفې ډیوټیانې ورته ورکولے شي-(3) پهٔ دې باره کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَادۡخُلِیۡ فِیۡ عِبٰدِیۡ ﴿۲۹﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا |

---

[1]... مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:201، حدیث:4942-

[2]... تفسیر طبری، پاره:30، سورهٔ نازعات، زیرِ آیت:5، جلد:12، صفحه:420، رقم:36167-

[3]... تفسیر خازن، پاره:30، سورهٔ نازعات، زیرِ آیت:5، جلد:4، صفحه:391-

زما خاصو بندګانو کښې داخِل شه- (پاره:30، سورهٔ فجر:29)

یعنې اے نَفْسِ مُطْمَئِنَّه! اے پاک رُوحه...!! زما د خاصو نه پهٔ خاص بندګانو کښې شامل شه...!!

## د بے وسه مدد او مرسته

عظیم عاشقِ رسول حضرت علّامه یوسُف بن اسماعیل نبهاني رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه لیکلي دي چې یو ځل سخته سوکړه وه، پهٔ هغه سوکړه کښې د حج ورځې هم راغلې- (اَلْحَمْدُلِلّٰه! د سوکړې باوجود عاشقانِ رسول د حج د پاره لاړل)، حضرت شیخ اَحمد بن محمد دِمیَاطي مصري رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه هم د مِصر نه دوه اوښان واخستل او د خپلې مور بي بي سره د حج د پاره مکے مکرمې ته حاضر شو، د حج د ادا کولو نه چې فارِغ شو نو د سرکارِ اعظم، رسولِ مُحتَشَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ پاک دربار کښې د سلام عرض کولو د پاره مدینے منورې ته حاضر شو، هلته چې راغلل نو اوښان یې هم مړهٔ شول، د هغوئي سره خرچه هم ختمه شوې وه، ځکه ډیر پریشانه شو چې اوښان مړهٔ شول، د واپسئ کرایه راسره هم نشته، اوس به کور ته واپس څنګه ځم؟ د دې پریشانئ پهٔ حالت کښې شیخ احمد دِمیَاطي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه د شیخ صَفِيُ الدِّین رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه پهٔ خِدمت کښې حاضر شو او ټول حالات یې ورته بیان کړل، شیخ صفيُّ الدِّین رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه وفرمائیل: تاسو د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ ترهٔ حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ مزار مبارک ته حاضري اوکړئ، هلته د قرآنِ کریم تِلاوت اوکړئ او خپله پریشاني عرض کړئ!

شیخ اَحمد دِمیَاطي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه پهٔ دې نصیحت باندې عمل اوکړو او د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ مزار مبارک ته حاضر شو، هلته یې د قرآنِ مجید تلاوت اوکړو، بیا یې د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ پهٔ خِدمت کښې خپله پریشاني عرض کړه- دلته د حاضرئ نه

پس چې هغوئي کله خپل ځائے ته ورسیدو نو مور بي بي ورته ووئیل: ځویه! یو ګس ستا پوښتنه کوله-

دا یې چې واوریدل نو شیخ اَحمد دِمیَاطي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه مسجدِ نبوي شریف ته حاضر شو، وه یې کتل چې یو رُعب دار او د سپینې ږیرې والا شخصیت دے، هغوئي پهٔ لیدلو سره وفرمائیل: شیخ احمده! مرحبا--!! شیخ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: زهٔ زر ور وړاندې شوم او د هغوئي لاسونه مې ښکل کړل- هغوئي وفرمائیل: احمده! تاسو مِصر ته لاړ شئ! عرض مې اوکړو: عالي جاه! څنګه لاړ شم؟ زما سره خو کرایه هم نشته او اوښان مې هم مړهٔ شوي دي- هٔغه بزرګ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د ځان سره کړو او مِصري حاجیانو یوې خیمې ته یې بوتللو او یو ګس له یې د اوښانو کرایه ورکړه او وه یې فرمائیل: تاسو شیخ احمد او د هغوئي مور مِصر ته ورسوئ- هٔغه مصري حاجي هم د هٔغه بزرګ ډیر عزت اوکړو، بیا شیخ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه زر خپل سامان تیار کړو، مور بي بي یې د ځان سره کړه او د مِصري حاجیانو خیمې ته ورسیدو، د هٔغه وخته پورې هٔغه نیک بزرګ هم هلته تشریف فرما وو، بیا د نـمونځ وخت وو، شیخ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د هٔغه بزرګ سره مسجدِ نبوي شریف ته حاضر شو، بزرګ وفرمائیل: احمده! تاسو لاړ شئ او نـمونځ ادا کړئ! شیخ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه جومات ته لاړو، نـمونځ یې ادا کړو، اِنتظار یې کولو چې هٔغه نیک بزرګ به هم راځي خو هغوئي تشریف را نهٔ وړو، شیخ احمد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: ما هغوئي ډیر ولټولو خو چرته مې هم پیدا نهٔ کړو، اخر زهٔ د شیخ صَفِيُّ الدِّین رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې بیان کړه- شیخ صَفِيُّ الدِّین رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه چې د هٔغه بزرګ د حُلیې مبارکې پهٔ باره کښې واوریدل نو وه یې فرمائیل: هٔغه نیک بزرګ بل څوک نهٔ وو بلکې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم ترهٔ حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وو کوم چې ستاسو د پریشانۍ ختمولو د

پاره تشريف راوړے وو- (1)

سرکار کے ہیں دِلبر آقا امیرِ حمزہ! | ہیں مُحِبِّ حَبِیْبِ داوَر آقا امیرِ حمزہ!
بھرتے ہیں سب کا دامن اللہ کی عطا سے | آ جائے جو بھی در پر آقا امیرِ حمزہ!
بھر دیجیے مری جھولی، صدقے میں مصطفےٰ کے | آیا ہوں تیرے در پر آقا امیرِ حمزہ!
طیبہ میں مَیں بھی آؤں، اب دیجیے اجازت | میرے غریب پرور آقا امیرِ حمزہ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د میلمنو حفاظت يې اوکړو

شيخ سعيد بن قُطب رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار مبارک ته ډيره حاضري کوله- عام طور به د مدينے منورې اوسيدونکو عاشقانِ رسول پهٔ 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار مبارک ته حاضري کوله خو حضرت سعيد بن قطب رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به خو ورځې مخکښې حاضريدلو او د 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب پورې به هم هلته ايساريدلو- **شيخ محمد بن عبد اللطيف مالکي** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ **فرمائي**: يو ځل زهٔ هم د شيخ سعيد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ سره د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار مبارک ته حاضر شوم، چې شپه شوه نو ټول خلق اودهٔ شول، زهٔ د هغوئي د حفاظت د پاره ويښ ووم، د شپې ما هلته پهٔ آَس باندې سور يو انسان وليدلو، کوم چې د مزار مبارک خوا ته ګرځيدلو، ما د هغه کَس نه پوښتنه اوکړه: تهٔ څوک يې؟ اوئې فرمائيل: زما نوم حمزه بن عبد المُطلب دے او زهٔ ستاسو حفاظت کووم- د دومره فرمائيلو نه پس حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د نظر نه غائب شو- (2)

بابُ الدُّعا ہے بےشک جن کا مزارِ اَنْور | وہ بندۂ خدا ہیں حضرت امیر حمزہ

[1]... جامع کرامات اوليا، جلد:1، صفحه:108 خلاصةً-

[2]... جامع کرامات اوليا، جلد:1، صفحه:109 بتغير قليل-

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې اِیمان تازه کوونکو واقعو نه معلومه شوه چې حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډېر عظیم او د پاک رُوح والا هستي ده چې هغوئي ته حُکم وشو:

| | |
|---|---|
| فَادْخُلِیْ فِیْ عِبٰدِیْ ﴿۲۹﴾ (پاره:30، سورهٔ فجر:29) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا زما خاصو بندګانو کښې داخِل شه- |

هغوئي اَلْحَمْدُلِلّٰه! په ډېره پاکو بندګانو کښې شامل دے او د الله پاک په عطا سره د هغهٔ د بندګانو مدد فرمائي او د سوال کوونکو جولۍ ډکوي-

## نفسِ اَمَّاره ټیک کړئ---!!

الله پاک دې په حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې کروړونه رحمتونه نازل کړي، الله پاک دې زمونږ د ګنهګارانو د هغوئي فیضان نصیب کړي- دلته هم زمونږ د پاره د زدکړې سبق شته - وګورئ چې د نَفْسِ مُطْمَئِنَّه څنګه فضیلت دے، کوم خوش قِسمته چې خپل نفس ټیک کړي او په نَفْسِ مُطْمَئِنَّه جوړولو کښې کامیاب شي، د هغهٔ د رُوح قبض کیدو په وخت هغهٔ له زیرے ورکولے شي، هغهٔ ته وئیلے شي: اے د اِطمینان والا نفسه! څه! د خپل رَبّ طرف ته راوګرځه- د الله پاک په خاص بندګانو کښې شامل شه، د الله پاک جوړ کړي جَنَّت ته راشه---!!

سُبْحٰنَ الله! غور اوکړئ چې د نَفْسِ مُطْمَئِنَّه د صاحب څومره ښکلے شان دے- مونږ له هم پکار دي چې مونږ خپل نفسِ اَمَّاره ټیک کړو او د نَفْسِ مُطْمَئِنَّه جوړولو پوره کوشش اوکړو-

# د کامیابئِ اَصلي معيار

الله پاک پۀ 30 سيپاره، سورۀ شمس کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۙ﴿۹﴾ وَ قَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ؕ﴿۱۰﴾ (پاره:30، سورۀ شمس:9-10) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه چا چې نفس پاک کړلو هغه کامياب شو- او بے شکه چا چې نفس پۀ ګناهونو کښې پټ کړو هغه ناکام شو- |

معلومه شوه چې ❀ د کامیابئِ معیار عزت او شهرت نۀ دے ❀ د کامیابئِ معیار مال او دولت، عیش او عشرت، لوئي منصب نۀ بلکې د کامیابئِ معیار څۀ دے؟ تزکیۀ نفس---!! کامیاب دے هُغه اِنسان چا چې د خپل نفس تزکیه اوکړه، خپل نفس یـې د بدو عقیدو، د خرابو اخلاقو، خرابو عادتونو او د باطني مرضونو نه پاک کړو او چا چې خپل نفس پاک نۀ کړو، هغه که پۀ دُنيائي لحاظ سره څومره هم عروج ته ولې وه نۀ رسيږي ، هغه کامياب نۀ دے، پۀ حقيقت کښې ناکامه دے-

بڑے موذی کو مارا نفسِ اَمّارہ کو گر مارا | نہنگ و اژدہا و شیرِ نر مارا تو کیا مارا

وضاحت: مکر مچ، مار او ازمرے وژل څۀ لوئي کار نۀ دے لوئي کار خو نفسِ اَمَّاره وژل يعني د ګناهونو نه منع کيدل دي-

## د تزکیۀ نفس 3 طریقې

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د **تزکیۀ نفس** یعني د نفسِ اَمَّاره د ټیک کولو او د نَفۡسِ مُطۡمَئِنّه د جوړولو 3 بهترینې طریقې ښودلې دي- لیکلي یـې دي: د 3 څیزونو پۀ مرسته د نفسِ اَمَّاره زور ماتیدے شي: (1): د خواهشاتو نه منع

کیدل (2): پهٔ نفس باندې د عبادتونو بوج اچول (3): د الله پاک نه مدد غوښتل- (1)

## (۱): د خواهشاتو نه منع کیدل

د نفس لویه بدي دا ده چې دا خواهشات پالي، که مونږ د نفس خواهشات پوره کول بند کړو نو د دهٔ زور به پخپله مات شي-

د حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه وشوه: د نفس بیماري د هغه (نفس) علاج کله جوړیږي؟ وه یې فرمائیل: کله چې تهٔ د هغهٔ د خواهشاتو مخالفت اوکړې (نو هم د هغهٔ بیماري به د هغهٔ علاج جوړ شي)- (2)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د تزکیهٔ نفس د ټولو نه اثرناکه طریقه--!! د نفس د خواهشاتو نه منع کیدل دي- که چرې مونږ دا اوکړو نو څهٔ به میلاؤیږي؟ الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾

(پاره :30، سورهٔ نازعات:40-41)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پاتې شو هغه، خوک چې د خپل رب پهٔ بارګاه کښې د ودریدلو نه وه ویریدو او نفس یې د خواهش نه منع کړو- نو بے شکه بس جَنَّت (د هغهٔ) استوګنه [د اوسیدو ځائے] دے-

دا 2 خبرې دي: (1): چې اِنسان د الله پاک پهٔ دربار کښې د حاضریدو نه ویریږي، دا ویره هغه هم پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې لړزوي چې آه! یوه ورځ مرهٔ کیدل دي، تیارهٔ قبر ته

---

1... منهاج العابدین، صفحه: 143 ملتقطاً ـ

2... لباب الاحیاء، صفحه:217ـ

کوزيدل دي، بيا د قيامت پهٔ ورځ راپاځيدل هم دي، آه! هٰغه د حشر ميدان--- هٰغه د اوسپنې سرهٔ شوې زمکه--- وور ورووړنکے نمر--- د قهر سره به مخ کيدل، اعمال نامې به پرانستے کيږي، پهٔ دې حالت کښې به د الله پاک دربار ته حاضري وي، زما د ژوند هر يو عمل به مخې ته وي، هٰغه وخت به زما څهٔ کيږي؟ دا ويره به يې لړزوي **(2):** او دويمه خبره: اِنسان خپل نفس د خواهشاتو نه منع کوي- چې دا دواړه کارونه اوکړو نو څهٔ به ميلاؤيږي؟ الله پاک فرمائي:

فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰى ؕ﴿۴۱﴾

(پاره :30، سورهٔ نازعات:41)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو بے شکه بس جَنَّت (د هغهٔ) استوګنه [د اوسيدو ځائے] دے-

جَنَّت به ميلاؤيږي- واه---!! څومره زبردست فضيلت دے---!! مونږ د څو روپو ګټلو د پاره ټوله ورځ محنت کوو، کار، کار، بس کار مو پهٔ مزغو کښې وي، بيا چرته راته يو څو يا يو څو زره روپۍ ميلاؤيږي- د الله پاک د رحمت نه قربان شم! کار څهٔ دے؟ نفس د خواهشاتو نه منع کول، چې دا اوکړې نو څهٔ به ميلاؤيږي؟ جَنَّت- د هلته هميشه پاتې کيدونکې نعمتونه، نهٔ ختميدونکے ژوند---!!

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا | ہم مفلس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے

## د نفس مخالفت پهٔ کومو کارونو کښې اوکړئ!

حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادِر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: که کاميابي غواړئ نو د خپل رَبِّ کريم پهٔ فرمانبرداری کښې د نفس مخالفت اوکړئ! که نفس د رَبِّ کريم د فرمانبرداری (يعني د نيک اعمالو) خواهش کوي نو داسې خواهش پوره کړئ او که د

رَبِّ کريم د نافرمانۍ خواهش کوي نو د هغې نه منع شئ---!! [1]

نفس و شیطاں پر مجھے غلبہ عطا کر یاخُدا! | اُس علی کا واسطہ دیتا ہوں جو ہے تیرا شیر

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): پۀ نفس باندې د عبادت بوج واچوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د تزکيۀ نفس د پاره چې دويم کوم خيز ډير ضروري دے، هغه دا دے چې پۀ نفس باندې د عبادت بوج واچولے شي- نفس پۀ فطري توګه ناراسته او مزه خوښے دے، دا به عبادت ته نۀ مائله کيږي، البته مونږ له پکار دي چې نفس غلے کړو او د دۀ پۀ مخالفت کولو سره عبادت ته ملا کلکه وتړو ❀ پينځه واړه نمونځونه ادا کوو ❀ د دې سره سره نفلونه هم ادا کوو ❀ تهجد هم کوو ❀ اشراق او څاخت او د اوابينو نفلونه هم کوو ❀ ذِکر او درود هم کوو ❀ ډير تلاوت هم کوو ❀ غرض دا چې څومره هم کيدے شي بس د عبادت سره زړۀ ولګوو، پۀ شروع کښې به لږه ګرانه وي، بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! پۀ ورو ورو نفس عادت شي او عبادت به ورله خوند ورکول شروع شي، بيا به نفس هُم پخپله د عبادت طرف ته مائله اوسيږي-

عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دل | مہِ رَمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ!

بنا مجھ کو مُحَمَّد مصطفٰے کا عاشِقِ صادِق | تُو دیدے سوزِ سینہ کر عنایت چشمِ نَم مولیٰ!

## نيک اَعمَال اِختيار کړئ!

پۀ نفس باندې د عبادت د بوج اچولو د پاره يوه بهترينه حکمت عملي هُغه ده کومه چې د دې دور عظيم علمي او روحاني شخصيت شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه

---

[1]... الفتح الربانی، ص:160-

مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه عطا کړې ده یعنې **نیک اَعمَال**- د اِسلامي ورونړو د پاره: 72 نیک اعمال دي، د اِسلامي خوئیندو د پاره 63، د طالب علمانو د پاره 92 او د وړو ماشومانو د پاره 40- دا نیک اعمال اِختیار کړئ، په دې کښې به درته ډیر زیات عبادتونه میلاؤ شي، مثلاً ❀ په دې کښې یو نیک عمل د پینځه واړو نـمونځونو د جَمعې سره د کولو په باره کښې دے ❀ د ښو ښو نیتونو کولو نیک عمل دے ❀ په دې کښې نفلونه هم شامل دي ❀ تلاوت ❀ ذِکر او درود ❀ مختلف سُنَّت ❀ سلیقه شِعَارِي ❀ مختلف آداب وغیره ډیر څهٔ دي- که چرې مونږ دا نیک اعمال په خپل ځان باندې نافذ کړو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډیر په اسانۍ سره به د نفسِ اَمَّاره په زور ماتولو، د دهٔ په ټیک کولو کښې کامیاب شو-

میں نثار ایسا مسلماں کیجیے | توڑ ڈالیں نفس کا زُنّار ہم[1]

## (3): د الله پاک نه مدد غواړئ!

د تزکیهٔ نفس د پاره د ټولو نه اهمه خبره کومه چې ډیره زیاته ضروري ده هغه دا چې د الله پاک نه سوال کول هیڅکله هم مهٔ هیروئ ځکه چې نفسِ اَمَّاره ډیر سرکشه دښمن دے، شیطان کوم چې د ګمراه کیدو نه مخکښې ډیر لوئي عالِم او عبادت ګزار وو او ډیر چالاکه او مکار هم دے، د نفسِ اَمَّاره سره هغهٔ هم مقابله اونکړے شوه، هغه بدبخته هم نفسِ اَمَّاره بے لارې کړو او د همیشه د پاره یـې کافر او نا مُراده کړو نو سوچ اوکړئ چې مونږ به د نفسِ اَمَّاره مقابله څنګه اوکړو- لهذا که د الله پاک مدد راسره وي نو بیا د نفسِ اَمَّاره نه ازادي میلاؤیدے شي- د الله پاک د نبي حضرت یُوسُف عَلَیۡهِ السَّلَام دا ښکلے فرمان په قرآنِ کریم کښې هم موجود دے، هغوئي فرمائي:

---

[1] ... حدائق بخشش،صفحہ:84۔

| | |
|---|---|
| اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیْؕ (پاره :13، سورۀ یوسف :53) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه نفس خو د بدی ډیر حُکم ورکوونکے دے خو پۀ چا چې رب رحم اوکړي- |

یعني نفسِ اَمّاره د بدی ډیر حکم کوونکے دے، د دۀ د شر نه هم هغه بچ کیږي پۀ چا باندې چې د اللّٰه پاک رحم او فضل وي-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوه دُعا

حضرت عبد اللّٰه بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: د اللّٰه پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سورۀ شمس د دې آیتونو تلاوت کولو:

| | |
|---|---|
| وَ نَفْسٍ وَّ مَا سَوّٰىهَا ۪ۙ(۷) فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَ تَقْوٰىهَا ۪ۙ(۸) (پاره :30 ، سورۀ شمس :7-8) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د نفس او د هُغه ذات [قَسَم]، چې هغه يـې برابر جوړ کړو- بیا يـې د هغۀ د نافرمانۍ او د هغۀ د پرهیزګارۍ پوهه د هغۀ پۀ زړۀ کښې واچوله- |

بیا به يـې دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا وَخَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا (1)

**ترجمه:** اے اللّٰه پاکه! زما نفس ته تقویٰ عطا کړې، هُم تۀ د دۀ مالِک او مولیٰ، او هم تۀ دۀ ته بهتر پاک والے عطا کوونکے يـې-

مونږ له هم پکار دي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا ادا، ادا کړو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! د نفسِ اَمّاره زور به هم مات شي-

[1]... معجم کبیر ، جلد:5، صفحه:283، حدیث:11028۔

| | |
|---|---|
| نفس نے لذتوں میں پھنسایا | مجھ پہ لطف و کرم ہو خُدایا! |
| دل سے چاہت مِٹا ما سِوا کی | میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے! |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: جامعةُ الـمدینه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: عالِم جوړ شه! طالِبِ عِلم جوړ شه! یا (کم از کم) د علماؤ سره محبت کوونکے جوړ شه! څلورم مهٔ جوړیږه ګنې هلاک به شې-[1] ګویا دِین زده کول، ښودل او د داسې خلقو سره محبت کول د هلاکت نه د بچ کیدو حل دے-

د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي ❀ د عِلمِ دِین د نُور تقسیمولو ❀ د معاشرې د اِصلاح کولو ❀ د خلقو د عقیدو او اعمالو د اِصلاح کولو ❀ او د عشقِ رسول د جامونو څښولو سره سره اُمت ته د با عمله عالمانو ورکولو لړ کښې هم مصروف دے- د دې مقصد د پاره پهٔ ملک او بهر ملکونو کښې د **شعبه جامعةُ الـمدینه (بوائز اینډ ګرلز)** لاندې د 1500 نه زیات جامعةُ الـمدینه جوړ کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې د یو لاکھ 28 زرو نه زیات زنانه او نارینه طالبِ عِلمان عِلمِ دِین حاصلوي-

د دې شعبې لاندې ❀ درسِ نظامي (عالِم کورس) ❀ مختلف تَخَصُّصَات (*Specialization*) ❀ فیضانِ شریعت کورس ❀ امامت کورس وغیره کولے شي ❀ پهٔ ځینې ځانګو کښې د دِیني علمونو سره سره دُنیائي علمونه هم ښودلے شي ❀ طالبِ علمانو ته د هاسټل (*Hostel*)، میس (*Mess*)، د طِبي عِلاج (*Medical*) اسانی هم ویړیا ورکولے شي

[1] ... دارمی، صفحه:96، حدیث:254 ـ

نوے تعليمي کال شروع شوے دے۔ ماشومانو ته ❀ د دِيني او دُنيائي تعليم ورکولو ❀ د دوئي د باطِني تربيت کولو ❀ د سُنَّتو د نمونې د جوړولو ❀ د نيک او اخلاقي جوړولو د پاره دوئي پۀ جامعة الـمدينه کښې داخل کړئ۔

الله پاک دې زمونږ دعوتِ اِسلامي ته ډيره ترقي عطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## *Muslim's Funeral* (د مړي د غسل او کفن دفن) ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجۍ دور دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Muslim's Funeral*** - پۀ دې موبائل ايپلي کيشن کښې ❀ د مَړي د غُسل او کفن دفن وغيره پۀ باره کښې ډير اهم معلومات ورکړے شوي دي ❀ يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې؟ ❀ کَفَن به ورته څنګه اچوې؟ د دې د عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي۔ ❀ د دې يو ډير اهم خاصيت دا هم دے چې پۀ دې کښې به تاسو ته د خپل ملک او د ښار د لوئي ذمه دارانو نمبرې هم ميلاؤ شي پۀ کومو باندې چې د رابطې کولو سره تاسو د کفن دفن في سبيل الله خدمتونه هم حاصلولے شئ۔

تاسو هم پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله پۀ نيک اعمالو د اِستقامت موندلو طريقې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ مکتبة المدينه د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ ژوند، خدمتونو، صفتونو، سوانح، علمي کارنامو او اخلاقو او عادتونو باندې مشتمل يو کوچنے کتاب پۀ نوم د سيرتِ اِمامِ احمد رضا چاپ کړے دے د کوم پۀ لوستلو سره چې به تاسو نور زده کړئ- ❁ ولادت او ماشومتوب ❁ تحصيلِ عِلم (تعليم او تربيت) ❁ کورنے ژوند او معاصرين ❁ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ژوند د تاريخ پۀ رڼا کښې ❁ د عربو او د نورو ملکونو د جيد علماؤ سره د هغوئي علمي رابطې ❁ د هغوئي د علمي خيرني او کتابونو مختصر تعارف ❁ د اعلیٰ حضرت يو خاص خوب او د دعوتِ اِسلامي په باره کښې ذِکر- دا کتاب سيرتِ اِمام احمد رضا په 280 روپۍ د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ بيعه ترلاسه کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارک دي: (1): څوک چې وعده نۀ پوره کوي، د هغۀ هیڅ ایمان نشته- [2] (2): کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي اوکړي پۀ هغۀ باندې د اللّٰه پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے- [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام سُنَّت دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❀ وعده ماتول به یـې نۀ خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې یو ځل یو کَس نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودریږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترینه هیر شول، 3 ورځې پس هغۀ ته بیا وریاد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسیدو نو حیران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تیریدو باوجود هم پۀ هٰغه ځائے کښې تشریف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته یـې وګورئ! چې رسول

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

[2]... مصنف اِبْنِ اَبی شیبه، کتاب: الایمان، جلد:7 صفحه:223-

[3]... بخاری، کتاب:جِزْیه، صفحه:815، حدیث:3179-

الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ګس اونه رټلو او نهٔ پهٔ جلال کښې راغلو، بس دومره یې وفرمائیل: اے سرېه! تا زهٔ پهٔ مشقت کښې واچولم-[1] الله پاک دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحہ:781، حدیث:4996۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم پهٔ

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65۔

شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پۀ هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شریکه ووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې پۀ شریکه یې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پۀ ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې یې لوَلي.[3] راځئ چې مونږ یې هُم پۀ شریکه ووائیو.

---

[1]... قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

[2]... اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

[3]... قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه رِوایت دے چې مدینے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي. (2) راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو۔[3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شریکه ووائیو۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي اللّٰه پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، اللّٰه پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکْر والدُّعَا، جلد:2، صفحہ:329، حدیث:30۔

[2]... مَجْمَعُ الزَّوائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَہ، جلد:10، صفحہ:254، حدیث:17305۔

3... تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415